مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ولي الله ملکزی

۲۰۱۹/۰۱/۱۰

# د ټولنیزو رسنیو ډولونه

## او خواږه ترخه

په ۱۷۰۲م کال کې په جرمني کې د اړیکې په نوم د لمړنی ورځپاڼي خپرول، په ۱۹۰۶ کې په امریکا کې په منظم ډول د راډیویي خپرونو پیل او په ۱۹۲۸ کې د تور او سپین او بیا په ۱۹۵۴ کال کې د ټلویزیون د پردې رنګه کیدل، په ورستیو دری سوو کلونو کې د ډیرو حیرانونکو نوښتونو د کتار په سر کې ځای لري . خو د ژورنالیزم او ټولنیزو رسنیو په ډګر کې د یویشتمي پیړی رینسانس هلته خپلې وزرې وغوړولي کله چې د ۱۹۹۸ کال په سپتمبر کې د ګوګل نړیوالي شبکي او بیا څو کاله وروسته د مای سپیس، یوتیوب او فیسبوک انترنیتي ویبپاڼي جوړې او د نړۍ له ۱۹۵ هیوادونو څخه یې وړوکي کلي جوړکړ. د انټرنیټ د همدې موډرني ټکنالوژی له برکته، نن څه باندی دری ملیارده انسانان په ۷۶ مختلفو ژبو هره ورځ یو بل سره اړیکي نیسي. او هره ورځ د نړۍ د نفوسو ۴۰ سلنه خلک په متوسط ډول، لدی رسنیو سره دوه ګړی وخت تیروي او په لیکلی، انځور شوی او لیدلی بڼه یو بل ته معلومات او خبرونه استوي.

لکه د پخوا په څیر، د رسمي ورځپاڼو، مجلو، ټلویزیوني چینلونو او راډیویي سټیشنونو پالیسی اوسیاستونه اوس هم د حکومتونو لخوا ټاکل کیږی. خو بالعکس دا ټولنیزې رسنۍ وړیا، لاسرسی ورته آسانه، معلومات یې تازه، چټک او له یو څوهیوادو پرته، د سانسور له پنجرې څخه بهر دي. له بلې خوا د ټولنیزو رسنیو محتوی ساده، لنډه او د ولس په ژبه وي. بله ځانګرتیا یې داده چې رسمي رسنۍ هغه څه وایي او لیکي چې واکمنان او زور واکان یې غواړي خو دا رسنۍ هغه څه وړاندی کوي چې عام او بی وسه خلک یې تنده لري.

تیره ورځ زه د سانفرانسیسکو د ښار په جنوب کې سیلکن ویلی سیمي ته ورغلم چیرته چې د ګوګل، اپیل او فیسبوک د پرمختللي ټکنالوژی د سترو مرکزنو ورځنی چارې د زرګونو انجینرانو او تخنیکي پرسونل لخوا پرمخ بیول کیږي.

ما پدی اړه څه معلومات برابر کړل چې ستاسو درنو لوستونکو په چوپړ کی یې ږدم:

### یوتیوب(You Tube) :

داسی یوه انټرنیتي پاڼه ده چې د هغه له لارې د ویډیو مینه وال کولای شي سینمایي فلمونه، ډرامې او یا هم پخپل لاس ترتیب شوي لنډ بصري کلیپونه په وړیا توګه وګوري او له خپلو دوستانو سره یې شریکي کړي. دغه سایټ د ۲۰۰۵ کال د فبروری په ۱۴مه د دری ځوانانو لخوا چې یې یو د بنګله دیش جاوید کریم وو، د کالیفورنیا د سان برنو په ښار کې د انټرنیټ له لارې رامنځته کړ چې بیا یو کال وروسته یې د څه باندی یونیم ملیاردو ډالرو په بیه د ګوګل په نړیواله شبکه وپلورله. په ۷۶ ژبو خپروني کوي، نژدی یونیم زر تنه عمله لري او هره ورځ له یو ملیارد څخه زیات خلک یې ګوري.

### فیسبوک(Facebook) :

دغه انټرنیتي ویبپاڼه چې د مارک زوکربرګ او د هغه د دری تنو همکارانو لخوا په ۲۰۰۴ کال کې رامنځ ته شوه، نن د نړۍ په کچه د ټولنیزو رسنیو د پټکي شمله ګڼل کیږي. په پیل کې یواځې د هارورډ د پوهنتون د محصلینو د درسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره ډیزاین شوی وه، خو ورو ورو یې نورو پوهنتونونو ته هم لاره پیدا کړه. ولی له شمالي کوریا پرته، نن د نړۍ په هره هغه سیمه کې چې انټرنیټ شتون لري، هلته به د فیسبوک مینه وال او کاروونکي په سترګو کیږي. مرکزي دفتر یې د کالیفورنیا په سانفرانسیسکو کې موقعیت لري او د رسمي او قراردادي مامورینو شمیر یې له شلو زروڅخه اوړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

### تویټر(Twitter) :

د ټولنیزو رسنیو له مهمو ځانګو څخه ګڼل کیږي چې د ۲۰۰۶ کال د مارچ په میاشت کې د سان فرانسیسکو په ښار کې د جک ډورسي او د هغه د درې تنو همکارانو په مټ د انټرنیټ له لارې خپل فعالیت پیل او په ډیر لږ وخت کې یې د مینه والو شمیر له دوه سوه ملیونه څخه واوښت. نن په ۲۵ هیوادونو کې ځانګې لري او ټول هغه معلومات یا پیغام چې د ټکو شمیر یې له ۲۸۰ څخه زیات نشي، په وړیا ډول خپروي. تویټر یو له هغو مهمو رسنیو څخه ده چې د نړۍ ځواکمن سیاسي مشران او هنري څیرې د هغه له لارې خپلې پالیسی او پرمختګونه اعلانوي.

### لنکډ ان(LinkedIn) :

بله هغه ټولنیزه رسنۍ ده چې د مایکروسافټ لخوا ۲۰۰۳ کال کې په کالیفورنیا کې په کار واچول شوه. معمولا تعلیم یافته او مسلکي خلک خپلې کاري سابقې، سوانح او د خپل شخصیت ځنې ځانګړتیاوې له سترو کمپنیو سره شریکوي ترڅو د مسلکي مهارتونو په چوکاټ کې د ځان لپاره مناسب کار پیدا کړي. د نړۍ ۵۹۰ ملیونه خلک یې استعمالوي چې یوازې ۱۵۴ ملیونه یې امریکایان دي.

### انسټګرام(Instagram) :

د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کې د فیسبوک لخوا دوه تنه تکړه انجنیران وګمارل شول چې دهوښیار ټلیفون له لارې دعکسونو او ویډیوګانو د شریکولو او خپرولو یوه نوې ویپاڼه جوړه کړي. په لږ وخت کې دغه سیستم جوړ او په تیرو اتو کلونو کې ددې رسنۍ له لارې د استول شوو انځورونو مجموعي شمیر له یو ملیاردو څخه اوښتی او هره ورځ نژدې ۱۱۰ ملیونه ګډون وال یو بل ته شخصي انځورونه او لنډ فلمونه استوي.

### پینټرسټ(Pinterest) :

دا انځوریزه رسنۍ د یوې خیالي لوحې په ډول ډیزاین شوې چې مینه وال یې پخپلو منځنو کې تصویرونه او ویډیوګانې شریکوي خو شرط یې دادی چې ګډون وال باید ځان مخکې له مخکې ثبت او غړیتوب ولري. دا ویبپاڼه له ۲۰۱۰ کال راپدیخوا په کالیفورنیا کې فعالیت لري، هره ورځ په متوسط ډول یو اعشاریه درې ملیونه خلک ورته سر ورښکاره کوي چې په حیرانیتا سره اویا سلنه یې میرمني او دیرش سلنه یې سړي دي.

### سناپ چیټ(Snapchat) :

اوه کاله وړاندې د سانفرانسیسکو د سیمي د سټینفرډ د پوهنتون درې تنو محصلینو دغه ویبپاڼه جوړه او په ډیر لږ وخت کې یې په مفته توګه د انترنیټ له لارې د نړۍ په ۲۲ ژبو خپلې غزوني وکړې. دغه پروګرام دوه ځانګړتیاوې لري، لمړۍ دا چې د پیغام ترلاسه کوونکي یې د لیدلو او ملاحظه کولو لپاره یوازې شپیته ثانیې وخت لري او بیا په اتومات ډول ګل یا له صحنې پټیږي او بله یې دا چې دا سایټ همیشه ژیر رنګ استعمالوي.
فلیکر (Flicker) د انترنیټ له لارې د ګډو انځورونو، ویډیوګانو او تصویري پیغامونو پروګرام او ویبپاڼه ده چې ازمیښتي دوره یې په ۲۰۰۴ کې د کاناډا په وینکوور او په منظم ډول فعالیت یې بیا د ۲۰۰۸ کال په مارچ کې د سانفرانسیسکو په ښار کې پیل کړ. نن ددې سایټ په ارشیف کې څه باندې پنځه ملیارده عکسونه او لنډې ویډیوګانې خوندي او په لږه موده کې یې د نړۍ سوو او ساره سره وترل. ولې باید وویل شي چې یوازې د هوښیار ټلیفون، بلاک بیرۍ او ویندوز له لارې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.

### تمبلر(Tumblr) :

هم د نورو په څیر د ټولنیزو رسنیو یوه موډرنه ویبپاڼه ده چې یولس کاله وړاندې د یو امریکایي ځوان لخوا د نیویارک په ښار کې فعالیت شروع کړ چې یوازې تیره میاشت د هغه په واسطه ۴۱۷ ملیونه بلاګونه یو بل ته استول شوي او د مینه والو شمیره یې د هرې ورځې په تیریدو سره مخ په بره روانه ده. البته د ویډیویي پروګرامونو ځانګړې ویپاڼه (وایمو (Vimo او په روسیې او اروپا کې د تصویري پیغامونو)وي کې (VK سایټونه هم د یادولو وړ دي چې ورته فعالیتونه لري.

### د دغو رسنیو خواږه یا ګټې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ټولنیزو رسنیو له لارې هرڅوک بالخصوص ژورنالستان او د خبري سرچینو نمایندګان کولای شي د سترګو په رپ کې خپلو اړونده چینلونو ته تازه او د لمړي لاس خبرونه او انځورونه واستوي. دوستان او خپلوان په آسانۍ او وړیا توګه کولای شي یو له بل سره اړیکې ونیسي، وګوري او د زړه خواله وکړي. سوادګریزې کمپنۍ او حتی افراد کولای شي په وړیا ډول خپل مالونه عرضه او وپلوري. هغه کسان چې د خپلو مسلکونو په چوکاټ کې د کار لټون کوي، کار پیدا او د وظیفې خاوندان شي. د لوړو زده کړو محصلین کولای شي لدې لارې خپلې علمي او اکاډمیکې سرچینې پیدا او پخپلو څیړنو او مونوګرافونو کې له هغو څخه ګټه واخلي.

## د دې رسنیو زیانونه:

د خوب وخت کموي، نا امیدی زیاتوي، اندیښنې زیږوي، په ځان باورکموي او د کورنۍ د غړو، خپلوانو او دوستانو ترمنځ واټن پراخوي. سوکه سوکه روږدي خلک د انزوا او ګوښه نیشنۍ خواته بیايي او له ربړا څخه تړږمی ته ترجیح ورکوي. کینه زیږوي، بې ضرورته سیالۍ ته وده ورکوي او اخلاقي ارزښتونه زیانمنوي. د ماشومانو د سترګو دید کمزوری کوي، د مکتب له کورنۍ وظیفې سره یې علاقه کمیږي، د مثبتې سیالۍ په ځای لټ اموخته او په کارټون او ویډیو ګیم بوختیږي. د مور او پلار په وړاندې د اطاعت په ځای ډیر کله د بغاوت او سرتمبګۍ څخه کار اخلي او په تنکیو ماشومانو کې د خبرو چټکه او حتی نورماله وده سستوي.
د خطرناکو او ترهګرو شبکو سره اړیکې نیول او دهغوئ له منفي پروپاګنډې څخه اغیزمن کیدل، بربنډو او غیراخلاقي مفتو فلمونو ته د وزګارو ځوانانو او نجونو لاسرسی او روږدي کیدل، ددی رسنیو ناوړې اغیزې په ګوته کوي. شخصیت وژنه، دعاطفي کمزورې، د درواغو اوجعلي خبرونو خپرول، د ژبې د عفت نه مراعت کول، نور هغه منفي اړخونه دي چې د دی موډرنې تکنالوژی په رامنځ ته کیدو سره عام شویدي. خو ددی رسنیو ترټولو ناخوالی اړخ دادی چې د شخصي معلوماتو خوندیتوب او محرمیت په کې له ګواښ سره مخ او په ډیرې آسانۍ سره یې هرڅوک ترلاسه کولای شي.
پایله: ددغو رسنیو په جوړولو او اداره کولو کې د مسلمانانو ونډه په خروار کې خورد هم نده، ولی یوه وروستی احصائیه څرګندوي چې تر ټولو زیات د پورن (لغړ) او فحش فلمونه په اسلامی هیوادونو کې لیدل کیږي او د فیسبوک تر ټولو ډیر مینه وال په عربي نړۍ کې دي. شک نشته چې دغه ډله ایزې رسنۍ د دوه مخې تورې حیثیت لري که په سمه ونه چلول شي نو د دښمن په ځای خاوند ورباندی خپل ځان ډیر بد بد ژوبلوي. نو څومره به ښه وي چې ځمونږ ځوان نسل یو بل ته د سپکو او سپورو په ځای، لدی رسنیو څخه د سولې او سوکالۍ لپاره او د افراط او تفریط په ځای د اعتدال څخه کار واخلي ځکه چې خیرالامور اوسطها- تر ټولو غوره چاره او لاره، منځنۍ لاره ده.

## سرچینې او ماخذونه:

د یوې مسلکي او اخلاقي دندې په توګه، په منني سره باید ووایم چې ما په پورتنۍ څیړنه کې د ویکیپیډیا، د الجزیرې ټلویزیون، سکای نیوز، سکرمنتو بي، اکسفورډ سروې، العربیه ټلویزیون، ګوګل، المنجد او د سانفرانسیسکو د کرانیکل د ورځپاڼې په څیر د معتبرو سرچینو څخه استفاده کړیده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ